پوهندوی آصف بهاند

# شاه‌جان هاجره حرکت او فرهنګي هڅې يې



په افغانستان غونډې ټولنه کې د نجونو او ښځو حالت ټولو افغانانو او نړیوالو ته معلوم دی چې په کوم وضعیت کې دي او څه ډول ځلن ورسره کېږي. د «ښځه یا په کور یا په ګور» شعار د علم او تکنالوژۍ په همدې عصر کې هم زموږ په هېوادوالو کې پلویان او لارویان لري.

زموږ په ټولنه کې پر نجونو او ښځو باندې د دومره فشارونو او درنو بارونو له زغملو سره ـ سره افغان مېرمني قلمي کار او فرهنګي فعالیت کوي او د خپلو خلکو او وطن د فکري روزنې او نوي نسل د پرمختګ په موخه لیکنې، تخلیق او ژباړې کوي، د همداسې ښځو په ډله یوه هم شاه‌جان هاجره حرکت ده.

اغلې حرکت له خپل وطنه بیا تر پردیو ملکونو پورې خپل مسلک او فرهنګي کار نه دي هېر کړي، شعر یې تخلیق کې ـ لنډې کیسې او ناول یې لیکلی دی، د کوچنیانو هېرو شویو ادبیاتو خوارې برخې ته یې کار کړی دی او په پای کې یې د ژورنالیزم او خبرني په دونیا کې په پل ایښودلو سره هم خپلو هېوادوالو او فرهنګ ته نه هېرېدونکي کارونه کړي دي او له دې ټولو سره ـ سره یې د کورنۍ جوړولو، اولادونو روزنې او پالنې دنده هم په مسؤلیت او بریالیتوب سره پرمخبېولې ده.

مخکې تر دې چې د اغلې حرکت د فرهنګي کارونو پر څرنګوالي خبرې وکړم، غواړم خپلو درنو لوستونکو ته د لاس لرلو معلوماتو له مخې د اغلې حرکت پېژندنه وړاندې کړم.

### د شاه‌جان حرکت پېژندنه:

د خپلې څېړنې لپاره مې د اغلې حرکت په بیوګرافۍ پسې په انلاین نړۍ څه پیدا نه کړل، خو کوم لومړني مواد چې اغلې حرکت د مقالې د بشپړېد له پاره زما په واک کې راکړل، هلته پته ولګېده چې د اغلې شاه‌جان حرکت بیوګرافي په لنډ ډول په څو چاپي خپرونو کې راغلې ده لکه: «پدیده»

مجله کې او دغه راز د دې د کوم چاپ شوي کتاب په وروستۍ پشتي کې هم یوه لنډه بیوګرافي چاپ شوې ده:




د اغلې حرکت د بیوګرافي پر دې موادو هم زه قانع نه شوم، بیا مې له دې نه هیله وکړه چې خپل ځان موږ ته راوپېژني، هغې هم د فرهنګي مهرباني له مخې خپله بیوګرافي ما ته راولېږله چې زه یې لنډون تاسو درنو لوستونکو ته وړاندې کوم:

«شاجان هاجره حرکت د خاص کونړ ولسوالۍ د پاچیانو بانده، یا طلایي بانده په یوې عالمې کورنۍ کې زیږیدلې، پلار یې سید عبدالله، مشهور په حاکم پاچا و. هاجرې لومړنۍ زده کړې د خاص کونړ ولسوالۍ کې په لومړني ښوونځي کې پیل او د کهمرد سیغان ولسوالۍ، ورپسې د قلعه کاه ولسوالۍ د جینکو په ښوونځي کې تر شپږم ټولګي بشپړې کړې. د نورستان په کامدیش ولسوالۍ کې یې پلار د خپلو لونیو لەپاره کورني ښوونکي ګمارلي وه، اوم او اتم ټولګی یې په همدې ولسوالۍ کې بشپړ کړل.

بیا یې په زدکړو کې څه خنډونه او ځنډونه ځکه پېښ شول چې د ژوند یو بل پړاو یې پیل شو، واده شوه او بیا د مور مسؤلیت ورله غړې شو؛ خو په خپل زیار یې، د ماشومانو په لرلو سره هم خپلې زده کړې د کابل په پوهنتون کې، د کارګري موسسې په نوم ښوونځي کې پرمخ بوتلې او له دولسم نه د فراغت سند یې له یاد ښوونځي څخه ترلاسه کړ.

بیا یې د کابل پوهنتون په ادبیاتو پوهنځي کې لړوې زدکړط پیل کې او په او په ۱۳۶۶ لمریز هجري کال کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو له پښتو دیپارتمنټ نه یې لیسانس واخیست. ورپسې یې د ماسترۍ دورې له پاره د خاصې ازمویني په ورکولو، په بریا سره د لوړو نمرو په اخیستلو په ۱۳۶۹لمریز هجري کال کې د ماسترۍ ډیپلوم واخیست.

په ۱۳۶۸ کال کې د روښان داخل خدمت پوهنځي، په پښتو دیپارتمنت کې د استادۍ دنده پیل کړه او د ۱۳۷۱ لمریز هجري کال د دوبې موسم په اسد میاشت کې د کورنۍ جګړې له کبله هېواد پرېښودلو ته اړه شوه.

هاجره د خپلو تخلیقاتو په باب وايي: «پښتو ادبیاتو پوهنځي کې مې شعر لیکه، خو یوازې له ځان سره مې ساته، چې د هجرت پر مهال راځنې ورک شول.»

په کابل کې د کورنۍ جګړې پیل د ټولو افغانانو له پاره یوه داسې غمیزه وه، چې یادونه یې اوس هم دردونکې دې. په دې اړه هاجره زیاتوي: «د کابل ښار په دغه کورنۍ جګړه کې وسوزېده او لکه ډېره برخه چې یې ورانه شوه، داسې د دغه ښار اوسېدونکو، هیلې او ارمانونه ورسره سم خاورې ایرې شول.»

د ۱۳۷۱ لمریز هجري کال کې د ټوپکمارو په تنظیمي او سمتي جګړو، پیل کې واک لاس په لاس کېدل، د هېواد په تاریخ کې یو بله توره پانه ده، چې راتلونکي نسلونه به ترینه عبرت اخلي. په خپله یوه څلوریزه کې د وخت واکدار داسې یادوي:

**وسوه د شفق کاسه په وینو کې نسکوره شوه**
**لاندې له لمبو نه ټوله ځمکه تکه توره شوه**

**باج یې پر سرونو د زلمو واخیست قاضي شولو**
**کېښناسته امیر شو د زاهد کیسه لا نوره شوه**

د هاجرې ستر ارمان دا و، چې خپلې لوړې زده کړې بشپړې کړي او د کابل ښار په یو پوهنځي د استادۍ سپېڅلې دنده تر سره کړي، خو دا ارمان یې په لنډو کلونو کې نیمګړی شو او تودې هیلې یې د مهاجرت سختو څپېرو وسوزولې. پر کابل چې د جګړې اور بل شو، نو له خپلې کورنۍ سره لومړی پاکستان، نهه میاشتې وروسته تاشکند او مسکو ته هجرت وکړ، چې پر لاره کې، د درې نیم کلونو په زنډېدلو سره المان ته مهاجره شوه.

المان ته په ۱۹۹۵ م کال په دسمبر میاشت کې راغله او په ۱۹۹۸م کال کې د المان غږ نړیوالي رادیو سره خپله همکاري پیل کړه. هاجره وایي:« د کار پیل مې له یوې ځانګړې ازمویني ورکولو، تر بریا وروسته وکړ، د ژورنالیزم په ټولو برخو کې مې خپله تجربه غښتلې کړه، د المان له ګوټ، ګوټ نه مې د افغانانو له غونډو او محفلونو راپورونه د راډیو له پاره جوړول، چې په هغه مهال کې، په هېواد کې د بنسټپال حکومت پر وړاندې د افغانانو او نړیوالو غږ پورته و.

په دې هکله هاجره وایي: «په راډیو کې مې د کار پیل د خبروني په وړاندې کولو سره وکړ، چې هغه مې د ځانګړې ازمویني ورکولو تر بریا وروسته تر سره کړ. موږ د ورځې دوه ځلې خبري خپرونه او راډیویي مجله درلوده. د خبروني په سر کې به د ورځې وروستي خبرونه راتلل او بیا به ورپسې راډیویي مجله وه. دا وایي، په لومړي سر کې به خپرونه پیل او اړوند مضامین به مې اورېدونکو ته معرفي کړل، بیا به د خبرونو وار و، چې زموږ د خبرونو ویاند به وړاندې کول. کله به چې د خبرونو ویاند حاضر نه وو، خبرونه به یې ویل.

وروسته یې په ۲۰۰۲ م کال کې د مېرمنو مجلې او تر څنګ یې د اورېدونکو خپروني مسولیت پر غاړه واخیست، چې د خپل هېواد د ښځو له دردونو او کړاونو سره مخامخ او له نږدې په اړیکه کې شوه. په دې اړه هاجره زیاتوي:«لکه په دوه زره دویم، درېم، څلورم، پنځم کې مې له پېښور څخه د افغانانو، د شمشتو او جلیزو، کمپونو ته لاړم او هلته مې له نږدې د افغانو مهاجرو ښځو سره د هغوی په خیمو کې چې د لمر سوزېدلو وړانګو لاندې له خپلو ماشومانو سره اوسېدلې، راپورونه جوړ کړل او د افغانو ښځو د ژوند ویجاړ حالت مې د اورېدونکو تر غوږونو ورسوو.

د هغې په خبره، ډېرو افغانانو به په هېواد کې دننه او هم بهر کې د ښځو د ژوند ویجاړ حالت ته غبرګون ښوده او هم به یې د خپل ژوند په اړه خبرې کولې.. د اورېدونکو خپرونه کې هم د ټولو افغانانو غوښتنې، ستونزې او د ژوند حالات رابرسېره کېدل. په خپله هاجره زیاتوي:«د مېرمنو مجلې او د اورېدونکو خپروني مسولیت مې پوره دیارلس کاله پر غاړه وو، په دوه زره شپږم، اوم او اتم،م کال کې مې کابل ته په سفر کې له ډېرو کونډو ښځو سره مرکې وکړې او د دوی د ژوند زورېدلې حال مې رابرسېره کړ. ورسره په المان کې مې د له الماني مېرمنو سره، په بېلا بېلو برخو کې لکه

د حقوق پوهو او د ښځو د حقونو پلويانو ميرمنو سره هم مرکې کړي، چې ځينو به افغانستان ته په تير مهال کې د سيلانيانو په توګه سفرونه کړي وو او خپلې خوږې خاطرې به يې بيانولې.

هاجرې حرکت په آلمان کې د خپلو افغانانو د غونډو سربيره د هغه المانيانو له فعاليعت څخه خپلو خلکو ته راپورونه ورکړل، چې د افغانستان له پاره يې کنفرانس ورکوو، يا يې هم دغه هېواد ته د سفر پر مهال د عکسونو نندارتون جوړ کړي وو او ورته نور فعاليتونه يې درلودل. دغه راز په اروپا کې يې د افغانو کورنيو له پاره د کلتوري توپيرونو په هکله هم ډيرې څېړنيزې مرکې وکړې او د هېواد له روان پيژندونکو، د ماشوم د روزنې له کارپوهانو سره پرې وغږيده.

د هغې ډير شعرونه د هجرت پر مهال ورځني ورک شول او کوم چې په وروستيو کلونو کې ويلي وو، هغه يې د سوي انګړ تر سرليک لاندې په يوه ټولګه کې چاپ کړل. ګن شمير شعرونه، لنډۍ کيسې يې په هېواد کې دننه په ورځپانو او مجلو، لکه د هېواد ورځپانه، د سباوون مجله او نورو کې چاپ شوې او هم له هېواده بهر د افغانانو له خوا په خپرو شويو مجلو کې خپاره شوي دي. لکه په آلمان کې په ۲۰۰۲ م کال کې د نارنج ګل په کلتوري خپرونه کې د خپرې شوې شعري ټولګې پيژندنه شوې او په امريکا کې د آينې په نوم مجله کې دوې لنډې کيسې، د سباوون په نوم مجله کې د شعرونو بيلګې خپرې شوې دي. دغه راز شعرونه يې بريتانيا کې د پديدې به نوم مجله کې، په المان کې د کاروان په نوم اخبار او نورو کې چاپ شوي دي.

د ماشومانو له پاره يې د خپل هېواد فولکلوريکه لنده کيسه په يو کتاب کې په څلورو ژبو چاپ کړې ده. دا کيسه په پښتو، دري، انګريزي او الماني ژبو کې ده د دغه ډول لنډو کيسو بله ټولګه يې چاپ ته تياره ده.

پنځه کتابونه يې چاپ ته تيار دي:

۱ ــ د غرونو او سيند له زړه راټوکيدلې مينه (ناول)،

۲ ــ ورکې مرغلرې (شعري ټولګه)،

۳ ــ زموږ د کلي ګل ايسه (د لنډو کيسو مجموعه)،

۴ ــ د کونړ سيند په نوم د ازادو شعرونو ټولګه،

۵ ــ د ماشومانو له پاره، ساده ښځه او غړې ماره ترور (د هېواد د فولکلوريکو لنډو کيسو ټولګه) چاپ ته تياره ده.»

زما له نظره د شاه جان حرکت فرهنګي ژوند په دغو لاندې برخو بايد وويشل شي:

**ــ شاه جان حرکت د يوې ښوونکې په توګه،**

**ــ د شاه‌جان حرکت تخليقي فعاليتونه،**

**ــ د کوچنيانو ادبياتو له‌پاره د اغلې حرکت هڅې،**

**ــ د ژورناليسم په ډګر کې د اغلې حرکت کارونه،**

**ــ د اغلې حرکت څېړنيز کارونه.**

اوس به د اغلې حرکت د فرهنګي هڅو هره برخه په لنډ ډول وڅېړو:

**ــ شاه جان حرکت د يوې ښوونکې په توګه:**

اغلي شاه‌جان حرکت د يوې مسلکي ښوونکې په توګه د وطن د نوي نسل د روزلو له پاره ډېر فعالیت له پوهنتون نه تر فراغت وروسته د کابل په روښان دارالمعلين کې په وطني مينې سره پيل کړ او په دې مقدسه دنده کې ترهغو پورې پاتې شوه، څو په وطن کې حالات خراب شول او دا د وطن پرېښودو ته اړ شوه.

شاه‌جان حرکت د يوې ښوونکې په توګه ډېر مسؤليت ګڼلی و چې په افغانستان کې د نوي نسل د روزلو له پاره کار وکړي او په ياده برخه کې چې کوم خنډونه رامنځته شوي دي، هغو ته په پام سره حللارې ورته پيدا کړي او د نوی نسل د تعليم، په تېره د نجونو د ښوونځيو د ښېرته پرانستلو له پاره هلې ځلې وکړي. په همدې لړ کې شاه‌جان حرکت د «پر افغان ولس د جهل تيارو خپرېدل ورځ تر بلې زياتېږي» تر سرليک لاندې يوه مقاله خپره کړه، چې د ځانګړې پاملرنې وړ ده. د يادې مقالې په يوه برخه کې د نجونو د تعليم د ارزښت په باب داسي راغلي دي:

«... دا ځګره زپلی هيواد چې نږدې نيمه پيړۍ ځوان نسل د تعليم له رڼا بې برخې پاتې شوی او پوره ځلور نسله د سواد له نعمته محروم وو, اوس په کې د واک پر ګدې داسې ړانده ناست دي، چې پر دواړو غبرګو لاسونو لګيا دي، ټولنه تورو تيارو ته ټيل وهي حال دا چې د خلکو اتګيرنه داسې وه، چې پر ولس اوهيواد مين واکداران به راشي او زموږ ربړيدلی په ځګرو، بمونو او توغنديو کې تليدلی ولس به را پورته کړي، د پوهې او علم په زرينه جامه به يې سمبال کړي.

کرار کرار افغان ولس په دې خبره اوس سم پوهيږي او ډيرو سره دا پوښتنه را پورته کيږي چې ايا په ريښتيا سره په هېواد کې د واک پر ګدۍ داسې پرديپال ناست دي،چې د پرديو ګوډاګيان دي او زموږ ځګره زپلی او د ناپوهۍ، وروسته پاتې والي په ناورينونو کې ډوب ولس لا ډوبول غواړي؟؟»

اغلي حرکت لنډه موده د روښان داخل خدمت پوهنځي کې په پښتو ديپارتمنت کې د استادۍ دنده پيل کړه او د ۱۳۷۱ لمريز هجري کال د دوبې موسم په اسد مياشت کې د کورنۍ جګړې له کبله هېواد پرېښودلو ته اړه شوه.

### د شاه‌جان حرکت تخليقي فعاليتونه:

شاه‌جان حرکت د شعر او هنري نثر په برخه کې تخليقي هستونې کړې دي، چې په ترتيب سره به يې په لنډ ډول د تخليقي فعاليتونو يادونه وشي:

۱ ـ د شعر په برخه کې:

شاه‌جان حرکت په مقفی او ازاد شعر کې ښه طبعه ازميلې ده او د شعر په دواړو برخو کې يې د پاملرنې وړ تخليقات کړي دي. د شعرونو د محتوی ډېره سلنه يې وطني مينه ده چې په هغو کې د خپلو خلکو او وطن پر کړاوونو او ستونزو باندې خبرې کوي او په هنري ډول حللارې ورته وړانديز کوي. د «د سوي انګړ» په نامه د شعرونو يوه ټولګه يې په ۱۳۷۹ هـ ش مرغومی/ ۲۰۰۱ م جنوري کال کې چاپ شوې ده. د سوي انګړ په شعري ټولګه کې ټول ۱۰۳ ټوټې شعرونه راغلي دي.




په همدې اړوند يې دلته د يوې غزلې څو بيتونه د بېلګې په ډول وړاندې کېږي:

د برخليک لاره مو تللي سر بدله
په اختيار کې مو د ژوند برخه شډله

هغه مستې سندرمارې پيغلې غبرګ اوس
پاس هوا کې لاړ ورکيږي له کابله

د ژوندو له پاره ټول چاپيريال تنګ شو
ساه يې بنده شوه، بدن يې شو خزله

موږ د کومې ګناه پور پر غاړه کړی
که بخت نه لرو له اره له ازله

د تورتم زړه څيره وو رڼا راباسو
زلوو سپين مشعلونه ډيوه بله

د تيارو راخپرونکي به پناه کړو
که تعبيض دا کړه لار نه شوه بدله

استاد بريالي باجوړي د اغلې حرکت د يادې شعري ټولګې لهپاره يوه لنډه مقدمه ليکلې ده چې دلته يې بشپړ متن رااخلم:

«په پښتو ادب کې د ښځينه شاعرانو او ليکوالو ونډه له لرغونو زمانو څخه پيل شوې چې تر ننه پورې دا لړۍ د ادب بيلا بيلو صنفونو کې دوام مومي او په تيره بيا په شعر ويلو کې خورا زياته ده.

موږ په بېلا بېلو وختونو کې د نومونو ښځينه شاعرانو او ليکوالو د ځليدو شاهد يو چې پښتو ادب يې په خپل وار په خپلو شعرونو ښکلی او رنګين کړی دی.

په اوسنۍ دوره کې دا لړۍ تر نورو وختونو لږ څه زياته شوې او موږ هر کال د ښځينه شاعرانو له يو شمير نويو کتابونو سره مخامخ کيږو.

شاجان هم د دغې لړۍ يوه شاعره ده، چې د سوي انګړ په نامه کتاب يې ستاسې په لاس کې دی. شاجان هغه مهال په شعر ويلو پيل کوي، چې هيواد کورنيو جګړو د اور په لمبو کې نيولی دی او په تيره بيا د هيواد پلازمينه کابل په اور کې سوځې.

هره خوا ماتم او ناورين دی، هره خوا د مرګ او ژوبلې نه ختميدونکې کيسه. همدغه شيبې او کلونه دي، چې شاعره له هيواد نه وتلو ته اړوځې خو په بې وطنۍ او مسافرت کې هم د خپل کور، کلی او وطن کوڅې نه هيروي. د وطن او خلکو نه يې ځان جلا نه دی بللی او د هر شعر په لوستلو سره يې داسې فکر کيږي، چې ګوندې دا شعرونه دننه په هيواد کې ويل شوي دي.

دا مجموعه د هيواد د وروستيو شيبو د ناخوالو او نادودو حکايت کوي چې هر شعر يې د يوې غمځپلې شيبې انځور او فرياد دی. درد هم لري او خواږه هم، د وطن ياد هم پکې دی او د انسانی لوړې مينې احساس هم په کې غزونی کړی دی.

د شاعرې د نورو کتابونو په هيله!

بريالی باجوړی»

د اغلې حرکت ګنشمېر شعرونه په چاپي خپرونو کې هم خپاره شوي دي. دا يې په پديده مجله کې د يوه خپاره شوي شعر بېلګه ده:


پدیده

شمارهٔ دوم سال اول جوزا ۱۳۸۲ خورشیدی برابر با جولای ۲۰۰۳ میلادی

د شعرله سردرونه

صدیق کاوون توفاني

د کاروان په هیله

ستا هغه مستې خبرلوڅې سترګې،
چې یې په سلو ژبو،
ماته سبق د محبت راکاوه.
او د ساړه ژمي په شپو کې به یې
زما د زړه کوډله،
مدام روښانه او توده ساتله.
اوس د سرې خیلې په توره شپه کې
سترې،
خاموشې،
او سړې،
ښکارېږي.
زه ستا دسترګو د خبرو تږی
د شپې په توره، ناڅرګنده دښته،
لکه ستومانه مسافر چې د یوه څاڅکي اوبو په تمه،
د کوم بې نومه، ناڅرګنده، کاروان لاره څاري
د شپې په توره او شګلنه دښته،
دتا د سترګو دخبرو دکاروان په هیله،
شپې
تېروم

شاجان هاجره حرکت

غزل

دومره مشهوره په لیلانه وای
چرې که مجنون هسې رسوانه وای
څه له به فرهاد د تیشې وار زغمه
دومره که شیرینه تمنانه وای
دومره مشهور خو به ظریف نه و
ښکلې بې مابې که بې همتانه وای
حسن د یوسف که بې مثال نه وای
څیرې به کمیس ترې زلیخانه وای
شمعې به په خپله رڼا نه ژړل
که بې د پتنګ پرمرګ ژړانه وای
زړه د خوار بلبل به سورې څه له و
چرې که بې ګل سره سودانه وای
څه له به لاله په زړګي داغ لاره
چرې که یوازې په بیدیانه وای
حسن د سپرلي به شاعرنه ستایه
بیرته که خزان راتللونکې بیانه وای

تقدیر

چې د ژوند ون را سره شیبې پاتې دي
نو مې په زړه د یرې کیسې پاتې دي
د تقدیر لوبه ده جارې را سره
څه ستمونه څه پلمې پاتې دي

۲۵

د جګړو د ناخوالو او بربادیو په لړ کې لکه د ځینو نورو شاعرانو په څېر اغلې حرکت هم خپل ګڼشمېر شعرونه له لاسه ورکړي دي چې د شاعر او فرهنګي بهیر له پاره لویه دردونکې او د ویر وړ خبره ده. دا د شاهجان حرکت د خولې خبره ده: « پخواني شعرونه مې د هجرت او بېځایه کېدو پر مهال راځني ورک شول.»

د دې مقالې د لیکلو له پاره مې له اغلې شاهجان حرکت نه د ځینو تخلقي بېلګو غوښتنه وکړه، هغې په فرهنګي مهربانۍ او حوصلې سره مرسته وکړه او د خپلو شعرونو په باب یې د نور و خبرو ترڅنګ دا هم راته وویل چې د دې شعرونه کله ـ کله جرمني ژبې ته هم ژباړل شوي دي. یوه بېلګه یې زه دلته ړدم چې د «Blick» په نامه په یوې خپرونه کې یې د ژباړل شوي شعر جرمني متن چاپ شوی دی:


Blick-
Seite 10

Die Stimme der Mutter Heimat

Wo bleibt die Liebe in deinen Augen, wo bleibt sie?
Warum seid ihr über alle Welt zerstreut?
Ich habe euch geglaubt und die Tage gezählt;
ihr aber habt euer Versprechen nicht gehalten.
Liebe Kinder,
wer liebt soll gerecht und standhaft sein.
Ich habe nie geglaubt, dass ihr vor Angst zittert.
Wer standhaft und entschlossen bleibt wie Farhad aus dem Märchen,
der kann die kahlen Gipfel der Berge bewässern.
Ihr solltet mit der Zeit Schritt halten,
weil die Karawane sich vorwärts bewegt
und die Zeit nicht auf euch wartet.
Keine Angst sondern mutig vorwärts.
Nicht auf die Stimmen hören,
die euch Illusionen vorgaukeln
und uns vom Weg des Menschseins abbringen.
Kinder, hört die Stimme eurer Mutter Heimat.
Sammelt euch wieder dort,
wohin ihr gehört.
Sammelt euch, bevor die Zeit euch bestraft.
Sammelt euch und gebt die Hoffnung nie auf,
weil aus den Tropfen Flüsse werden
und die Flüsse münden ins Meer.

Dieses Gedicht wurde von Frau Shahjan Harakat geschrieben. Sie kam vor 3 1/2 Jahren als Asylsuchende aus Afghanistan mit ihrem Mann und drei ihrer fünf Kinder nach Deutschland. Hier wartet sie auf die Anerkennung als politisch Verfolgte, ihr Gedicht drückt die Stimmung und Hoffnung eines Heimatlosen aus.

۲ ـ د هنري نثر په برخه کې:

الف ـ لنډه کیسه،

شاه جان حرکت د خپل تخلیقي کار له پیل نه ګڼې لنډې کیسې لیکلې دي، چې د ننه په افغانستان او د باندې له وطن نه په چاپي خپرونو او په انلاین ډول خپرې شوې دي. دا د خپلو کیسو موضوعات د خلکو او ټولنې له منځ څخه راخوښوي او د لنډې کیسې د اصولو په چوکاټ کې یې په هنري ژبې سره انځوروي او د خپلې هنري زېرمې مالګه مرچ وراضافه کوي او له یوې ټاکلې پایلې سره یې خپلو مخاطبینو ته وړاندې کوي.

دا يي د لنډو کيسو يوه بېلګه ده:«

# د نرګسو ګلان

ګل لښته په ښوونځي کې زما د څلورم کال ټولګي واله وه، په خپل ګرد اوربل او تورو اوږدو چوټي ګانو سره د جينکو  تر منځ يي ښکلا ځانګړې وه. له وړاندې کلي به يې ځان ښوونځي ته رارسوو.
هغه ورځ يې راته زموږ د کور تر مخ د ويالي له غاړې غږ کړ:
اي ترينې! هله ژور کوه، چې د ښوونځي زنګ به ووهل شي او موږ به بيا سزا ګورو.
ما د خپلو کتابونو بسته غاړې ته واچوله او په دوه ګامه يي خواته ورغلم، ورته مې کړه:
شابه مخکې شه! چې بيا ما ملامته نه کړې.
ګل لښته موسکۍ شوه:
هو نو مدام به زه تا ته غږ کوم، چې راوځه ناوخته دې کړ. هغې به هر پسرلي له پلار او مور سره د نرګسو ګلانو د ګيډيو په جوړولو او تر بازاره رسولو کې مرسته کوله. پلار يې په ښوونځي کې ښوونکې و او مور يې ښه ملاتړ کونکې وه..
د پنجشنبې په ورځ به له ټولو تر مخه د پلار او مور خواته تلله. د دوي کور او پټي د سترې ويالي پر غاړه وو او د نرګسو ګلانو په پالنه او روزنه کې زموږ په سيمه کې نوم درلود.
د پسرلي په موسم کې چې به طبعيت کې ونې وغوړيدې، پرغرونو، راغونو شين زرغون بخمل را خور او پر شنو پولو به، وحشي رنګا رنګ ګلان وټوکيدل، بيا به ګل لښتې مدام په وياړ سره موږ ته ويل:
زموږ د هميشه بهار ولايت ولسوالی په دې کلی کې د نرګسوګلانو ښکلا نوم لري ، زموږ له منځه به جينکو ويل، ستا دا کلی خو تر ټولو وړاندې د غره پر غاړه پروت دی. هغې به وخندل او بيا به يې په يو ډول وياړ سره وويل:
تاسي به يو ځل د ګلانو سيل ته ضرور بيايم.موږ ټولي همزولي د ګلانو ليدلو ته هوسيدلو، چې کله به ورځواو دا وعده به يې نه پوهيدو چې ولې زنديده. .
ورځي شپې تيريدلي، وخت دومره ژر تير شو چې هډو پته يې ونه لګيده او موږ جينکی د ښوونځي له پاې ته رسيدلو وروسته، چې د سردار داود خان د جمهوريت دورې پاې وه، سره هرې خوا خورې شو. د ټولګي بشپړيدو وروسته، مې په خپلې سيمه کې وروسته له وخته د ښوونکي په توګه کار پيل کړ، ورسره سم مې د خپلې خوښې پوهنځي کې تحصيل هم. هغه ورځ مې له کاره تر رخصتيدو وروسته، زموږ د ښوونځي مهال ټولګي واله ګلشابه وليده،چې مدام به له ګل لښتې سره يو ځاي تله راتله. په ليدلو مې د حال پوښتنې سره سم ترينه پوښتنه وکړه:
ګلشابې! د ګل لښتې په هکله راته ووايه، چې چيرې ده؟ هغې کړه: وايي ته خبره نه يې چې هغه يې مجاهد ورور خپل قومندان سره واده کولو ته مجبوره کړه، چې هغه ځو ښځې درلودې.
ما هيڅ باور نه شو کولې، چې ګل لښته خو پيغله وه او وروڼه يې ترينه ډير کشران وو. په تلوسي سره مې بيا وپوښتله:
ګل لښته خو ځوانه وه او وروڼه يې ترينه ډير کشران وو.
هغې کړه:
هو کنه، خو همدا غم شو، وروڼو يې تر دويم او دريم ټولګي پورې سبق ووايه او بيا زموږ په ولسوالۍ کې جګړه پيل شوه، د هغې وروڼه په کم عمر کې د نورو جنګياليو سره يو ځاي شو، يو وروړخو يې د جګړې په بهير کې ووژل شو..
ما وويل: د هغې پلار او مور او د نرګسو ګلانو  روزنه څنګه شوه؟
ګلشابې زياته کړه:
هسې خوب او خيال پاتې شو، ګل لښته چې د کرهنې پوهنځي ته د کانکور په ازموينه کې په ښو نمرو بريالۍ شوې وه او تل به يې ويل، چې په خپلې ولسوالۍ کې به د نرګسو ګلانو تر څنګ رنګارنګ ګلان روزي، دا ارمان يې پوره نه شو.

زما ژبه ونښته، د بلې پوښتنې ځواک راسره نه و. ګل شابې کړه:
له زده کړو او پرمختګ سره د ګل لښتې هغه بې سارې مينه، هسې خوب او خيال پاتې شو، ځکه ګل لښته دا درې کاله کېږي، چې بيا له پاکستانه خپلې کورنۍ خواته نه ده راغلې، پلار يې له غمه مړ شو او مور يې ډيره کمزورې شوې...»

ب ـ ناول:

پښتو ژبې ته ناول د ژباړې له لارې پل کېښود. له اردو ژبې نه د ډپټي نذيراحمد «مراة العروس» په نامه ناول ميا حسيبګل په ١٨٧٦زېږديزکال راوژباړه او په ١٩٥٧زېږديز کال کې چاپ شوی دی .تر دې وروسته د «توبة النصوح» او «سيرالسالکين» په نومونو ناولونه هم له اردو ژبې نه پښتو ته ژباړل شوي دي؛ خو په پښتو ژبه کې د ناول ليکنې لړۍ استاد راحت زاخيلي د «ناول د ماه رخې» په ليکلو سره پيل کړه. دا لړۍ وروسته پسې وِغځېده، ګڼو ليکوالو تجربې په کې وکړې او په دې بهير کې شاهجان حرکت هم ورګډه شوه.

د شاهجان حرکت د تخليقاتو يوه برخه ناول ليکنه ده. اغلې حرکت په ناول ليکنه کې هم قلم چلولی او خپل بخت يې ازمويلی دی، «د غرونو او سيند له زړه راټوکيدلې مينه» په نامه يې يوناول ليکلی دی، خو تر اوسه چاپ شوی نه دی. چاپ ته د چمتو کېدو چارې يې روانې دي.

**د کوچنيانو ادبياتو لهپاره د اغلې حرکت فعاليتونه:**

دا خو د لمر په شان يوه ښکاره خبره ده چې په پښتو ادب کې د کوچنيانو ادب له پامه لوېدلی دی او هغه کارونه چې په دې برخه کې شوي دي د قدر وړ دی، خو اوس هم په دې برخه کې موږ ډېر نيمګړي يو. اغلې حرکت همدا نيمګړتيا ليدلې او دا کمبود يې حس کړی دی چې د کوچنيانو له پاره يې هم کار ته پيل کړی دی، اغلې حرکت د کوچنيانو له پاره تر اوسه د قدروړ کارونه تر سره کړي دي، خو زه فکر کوم چې دا هم لړ دي.

د کوچنيانو ادبياتو لهپاره د اغلې کرکت د يادونې وړ اثر «پاچا او چرګوړی» نومېږي چې چاپ شوی دی.




دا په خپله په دې برخه کې خپل کړي کارونه داسې بیانوي:

«د ماشومانو له پاره مې د خپل هېواد فولکلوریکه لنډه کیسه په یو کتاب کې په څلورو ژبو چاپ کړې ده. دا کیسه په پښتو، دري، انګریزي او الماني ژبو کې ده. د دغه ډول لنډو کیسو بله ټولګه یې چاپ ته تیاره ده.»

د کوچنیانو ادبیاتو په برخه کې د اغلې حرکت د هڅو په باب ښاغلي عبدالغفور لېول (څېړنوال دکتور عبدالغفور لېوال) کلونه پخوا داسې لیکلي وو:

«ګران سیدعبدالله نظامي د درنې هاجره حرکت له کیسو څخه یوه خوږه کیسه رالیږلې وه، چې ویې ولولم او یو څه پرې وکاږم،افسانه د ماشومانو له پاره لیکل شوې ده، نظامي راته لیکلي وو، چې میرمن حرکت ګڼې داسې نورې کیسې هم لیکلې دي او غواړي خپرې یې کړي، خورا خوشاله شوم او د خوشالۍ لاملونه مې دا دي:

زموږ درنې لیکوالې د یوې داسې تشې ډکولو ته ملې رانغښتې، چې په افغاني فرهنګ کې یې له لسیزو راهیسې وینو او هغه د ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره د افسانو لیکل دي، افسانې یوازې

ماشومانو لپاره نه، بلکې د لویانو لپاره هم خورا په زړه پورې او ګټورې دي، دا ډول افساني د تخیل ځواک پیاوړی کوي، د منطق او استدلال او توانمندي زیاتوي، له ادبیاتو او پوهنې سره مینه راهستوي، له تاریخ او اسطورو سره اشنایي مومي او رواني غوټې پرانیزي.

د لیکوالې ژبه ساده، خوږه او روانه ده، چې د افسانو لپاره همداسې ژبه په کار ده، د افسانو په ژبه کې د تمثیل او مترنمو برخو راوړل د کیسې جذابیت لا پسې زیاتوي، د کرکټرونو او افسانوي سېمبولونو سمه کارونه افساني نورې هم خوږوي، دا ټولې ښېګڼې د دغو افسانو د لیکوالې په ژبه کې موندلای شو.

دا ډول افساني په عمدي بڼه (Deliberateli) د ټولنیزو اخلاقو ښوونه کوي، مانا دا چېد خپل ادبي ارزښت تر څنګ دیداکتیک (Didactic) یا تعلیمي اهمیت هم لري، د (کلیله و دمنه)یا د بیدپا فیلسوف کرینکا و دمنکا حکایتونه، چې هم یې راویان او هم کرکټرونه څلور بول، مرغان او نور ژوي دي. د تعلیمي او فلسفي حکایتونو خورا زوړ میراث دی، له هماغې زړې زماني څخه د بشري ټولنې د اړیکو او تکامل روایتونه د ژویو د نړۍ په تمثیل کې افسانو ته لار موندلې ده..د ژویواو ان بوټو او نورو طبیعي اشیاوو(Personification) یا پیرسونیو فیکاخیون انساني کېدنه د په زړه پورې افسانو لرغونې دود دی،چې د بشریت په فرهنګي میراث کې پام وړ ځای لري.

د کوشنې چرګوړې هغه کیسه،چې د پادشاه په نس کې یې سندرې ویلې، په زړه پورې سیمبولیک نکل دی، چې د میرمن حرکت په کیسو کې لوستلای شئ.

زه په خپل وار سره د دغو افسانو درنې لیکوالې ته د هغوی د دغه ابتکاري او ارزښمن کار لپاره مبارکې وایم او هیله لرم، چې خپلې دغه تخلیقي هڅې لا وغزوي.»

درنښت
څېړندوی عبدالغفور لیوال

(حرکت هاجره، پاچا او چرګوړی، دانش مطبعه کابل، ۱۳۹۶ کال، ۳ ام مخ.)

کله چې د چا په کلي ـ کور او وطن کې د جګړې تنور تود شي، بیا هرڅه د جګړې په اور کې سېځل کېږي او د ژوند چارې ګډېوډې شي؛ د همدې ناخوالو په دایره کې اغلي حرکت هم نه ده توانېدلې چې په منظم ډول د کوچنیانو ادبیاتو له پاره خپل پلان تطبیق کړي او هغه څه چې د کوچنیانو د سمې روزنې او لارښوونې لهپاره د دې په پلان کې وو، هغه تر سره نه شول خو اغلي حرکت ناهیلې نه شوه او د خپل توان په اندازه یې په دې برخه کې کار وکړ. سره له دې چې په دې برخه کې یې کارونه د بېځایه کېدنې او هجرتونو په وجه خوارهواره وو، خو بیا هم دا توانېدلې چې د خپل توان په اندازه د کوچنیانو ادبیاتو د هېر شوي صنف له پاره هلته او دلته یوڅه کار وکړي. دا لاندې یې په یاده برخه کې د کار یوه بېلګه ده:«

## ښارو او کارغه

یو و او یو نه و، یو کارغه او یوه ښارو وه، دواړو به کله کله له یو بل سره د زړه خواله کوله. یوه ورځ چې هوا سړه وه نو ښارو وپتیله چې وریجې پخې کړي.

په کوټه کې نغرې و، اور یې په کې بل کړ او په وړوکې دیګې کې وریجې پخې کړې. دلته د ښارو پام شو چې مالګه نه لري او کارغه د مالګې په غره کې اوسیده، ښارو له ځان سره وویل:

کارغه ماما به راته ضرور مالګه راکړي.

له خپل کوره والوتله، ډېر مزل يې وکړ او ستړي ستومانه د مالګي غره کې د کارغه کورته ورغله. کارغه ته يې داسې وويل:

لږه مالګه مې په کار ده، دومره لرې لار کې د يو چونګي مالګي پسې راغلى يم. کارغه چې پر خپل د مالګې په کور ډېر نازېده داسې يې کړه:

نه نه زه تاته مالګه نه شم درکولي،ځکه چې زما کور له مالګې جوړ دې او که زه ترينه تاته مالګه رابيله او درکړم، بيا زما د کور ښايست نه پاتې کيږي.

ښارو داسې تمه نه لرله چې کارغه دې له يو چونګي مالګي ورکولو ډډه وکړي.نو يې داسې دوعا وکړه:

خدايه شړقنده باران کړې، د کارغه ماما کور وران کړي.

له دې ښيراو سره په بيړه والوته او د مالګي غره له ډېر څخه يې يو چونګي مالګه رابيله کړه، په ستنه خپل کورته راغله. کور ته له راتګ سره سم يې په وريجو کې مالګه واچوله. لږه شيبه وروسته شړقنده باران شو او د کارغه ماما کور وران شو. کارغه هره خوا والوت، خو ډېر لوند خيشت شو او سړو وواهه. د ښارو کور ته يې پام شو چې هلته ځان ژغورلي شي، د هغې کورته يې په ډېر زيار ځان ورسو او داسې غوښتنه يې ترينه وکړه:

ګراني ښارو: اجازه راکړه چې ستا د کور په دالان کې کښينم او له شړقنده باران څخه ځان وژغورم. ښارو کړه:

کارغه ګوره مخ تور ګوره
سکړک په تبىَ سپور ګوره راځه کارغه راځه.

د ښارو په کور کې چې د کارغه ډډې لږې وچې شوې، د وريجو خوږ بوي پرې ورغي، په کرار د نغري خواته ورغي، وږى وږي يې ښارو ته وکتل، چې په خوند يې وريجې خوړلې او بيا يې ورته وويل:

وريجو بوي ډېر خوندور دى، ډېر وږې يم. ښارو کړه:

کارغه ګوره مخ تور ګوره
سکړک پر تبى سپور ګوره. راځه کارغه راځه.

کارغه ژر له ښارو سره د وريجو په خوراک پيل وکړ. د شپې تياره خېره شوه او بيا هم شړقنده باران وو. کارغه د ښارو کور په دالان کې له يخه ريږديده. نو يې ښارو ته وويل چې د خوب خونه کې د کټ پښو کې د خوب اجازه ورکړي. ښارو کړه:

د مالګې په کور نازيدي ګوره څنګه خواريدي. چې کړي کبر کارغه ګوره. لالهانده او مخ توره. زما کور کې اسوده شه اوس راځه د کټ پر پياړمه مې ويده شه. په دې ډول ښارو کارغه ته اجازه ورکړه چې د کټ پر پياړمه يې شپه تيره کړي، خو له شرمه خپلې سترګې ښکته ونيسي او ويده شي.»

## ـ د ژورناليسم په ډګر کې د اغلي حرکت کارونه:

د اغلي حرکت د فرهنګي فعاليتونو غوره برخه د دې د ژورناليستي کارونو څېرکى جوړوي. کله چې دا جرمني هېواد راغله، نو څه موده وروسته د المان غږراديو په چوکاټ کې ژورنالستي کار پيل کړ. د اغلي حرکت په بيوګرافى کې د دې د ميدياي کار په باب داسې راغلي دي:

«المان ته په ۱۹۹۵ م کال په دسمبر میاشت کې راغله او په ۱۹۹۸م کال کې د المان غږ نړیوالې راډیو سره خپله همکاري پیل کړه. هاجره وايي:« د کار پیل مې له یوې ځانګړې ازمویني ورکولو، تر بریا وروسته وکړ، د ژورنالیزم په ټولو برخو کې مې خپله تجربه غښتلې کړه، د المان له ګوټ، ګوټ نه مې د افغانانو له غونډو او محفلونو راپورونه د راډیو له پاره جوړول، چې په هغه مهال کې، په هېواد کې د بنسټپال حکومت پر وړاندې د افغانانو او نړیوالو غږ پورته و.

په دې هکله هاجره وايي:« په راډیو کې مې د کار پیل د خپروني په وړاندې کولو سره وکړ، چې هغه مې د ځانګړې ازمویني ورکولو تر بریا وروسته تر سره کړ. موږ د ورځې دوه ځلې خبري خپرونه او راډیويي مجله درلوده. د خپروني په سر کې به د ورځې وروستي خبرونه راتلل او بیا به ورپسې راډیويي مجله وه. دا وايي، په لومړي سر کې به خپرونه پیل او اړوند مضامین به مې اوریدونکو ته معرفي کړل، بیا به د خبرونو وار و، چې زموږ د خبرونو ویاند به وړاندې کول. کله به چې د خبرونو ویاند حاضر نه وو، خبرونه به یې ویل.

وروسته یې په ۲۰۰۲ م کال کې د میرمنو مجلې او تر څنګ یې د اوریدونکو خپروني مسولیت پر غاړه واخیست، چې د خپل هېواد د ښځو له دردونو او کړاونو سره مخامخ او له نږدې په اړیکه کې شوه. په دې اړه هاجره زیاتوي:«لکه په دوه زره دویم، دریم، څلورم، پنځم کې مې له پېښور څخه د افغانانو، د شمشتو او جلیزو، کمپونو ته لاړم او هلته مې له نږدې د افغانو مهاجرو ښځو سره د هغوي په خیمو کې چې د لمر سوزیدلو وړانګو لاندې له خپلو ماشومانو سره اوسیدلې، راپورونه جوړ کړل او د افغانو ښځو د ژوند ویجاړ حالت مې د اوریدونکو تر غوږونو ورسوو.

د هغې په خبره، ډیرو افغانانو به په هېواد کې دننه او هم بهر کې د ښځو د ژوند ویجاړ حالت ته غبرګون ښوده او هم به یې د خپل ژوند په اړه خبرې کولې.. د اوریدونکو خپرونه کې هم د ټولو افغانانو غوښتني، ستونزې او د ژوند حالات رابرسیره کیدل. په خپله هاجره زیاتوي:«د میرمنو مجلې او د اوریدونکو خپروني مسولیت مې پوره دیارلس کاله پر غاړه وو، په دوه زره شپږم، اوم او اتم،م کال کې مې کابل ته په سفر کې له ډیرو کونډو ښځو سره مرکې وکړې او د دوې د ژوند زوریدلې حال مې رابرسیره کړ. ورسره په المان کې مې د له المانې میرمنو سره، په بیلا بیلو برخو کې لکه د حقوق پوهو او د ښځو د حقونو پلویانو میرمنو سره هم مرکې کړې، چې ځینو به افغانستان ته په تیر مهال کې د سیلانیانو په توګه سفرونه کړې وو او خپلې خوږې خاطرې به یې بیانولې.

هاجرې حرکت په المان کې د خپلو افغانانو د غونډو سربیره د هغو المانیانو له فعالیعت څخه خپلو خلکو ته راپورونه ورکړل، چې د افغانستان له پاره یې کنفرانس ورکوو، یا یې هم دغه هېواد ته د سفر پر مهال د عکسونو نندارتون جوړ کړې وو او ورته نور فعالیتونه یې درلودل. دغه راز په اروپا کې یې د افغانو کورنیو له پاره د کلتوري توپیرونو په هکله هم ډیرې څیرنیزې مرکې وکړې او د هېواد له روان پیژندونکو، د ماشوم د روزنې له کارپوهانو سره پرې وغږیده.»

## د اغلې حرکت څېړنیز کارونه:

شاهجان حرکت د خپلو فرهنګي فعالیتونو په لړ کې سیاسي شننې او څېړنیزې لیکنې هم کړې دي چې ګڼې مقالې یې په میډیا کې خپرې شوې دي. کېدای شي د اغلې حرکت دا لیکنې په دوو برخو وویشل شي: سیاسي لیکنې او ادبي لیکنې.

دغه یې د ځینو څېړنو او سیاسي شننو سرلیکونه دي:

ــ پاکستان په خپلو نا امنیو کې بیا افغانستان ښکیل ګڼي،

ــ سر په دار لک شوی ښه دی، نه لک شوی په پیغور،

ـ تېر کال یو بل افغان عالم د هېواد ودانولو په ارمان لاړ.

اغلي حرکت د خپل څېړنيز کار په هکله داسې وايي:

«په ۱۹۹۸ م کال کې د المان غږ په راډيويي خپرونه کې د کار له پيل سره سم، خپل څېړنيز مطالب ليکلي دي. لکه د افغانانو له غونډو يا ۱۹۹۸ م کال کې د طالبانو د واک پر مهال چې د افغان ولس په ژوند کې کوم خنډونه او ستونزې رامنځ ته کړې وې، د ټولې نړۍ پام وراوښتې وو، چې په نړيواله کچه ورته غبرګون ښکاره و.

په داسې يو مهال کې لکه اوس چې د جينکو او ښځو پروړاندې کوم ناوړين روان دی، هغه مهال هم داسې حال و؛ خو توپير يې دا دی، چې اوس د نړۍ غبرګون ډير لږ دی او د دوی د ژوند نادودو ته کومه خواخوږي نه شته او يا ډيره لږه ده. هغه وخت به په دې هکله پراخ غبرګون ښودل کيده، زما دنده همدا وه چې په داسې ټوليدنو کې ګډون وکړم او راډيو ته ترينه راپور جوړ کړم.

تردوه‌زرم کال پورې به مې يوازې راډيو ته راپورونه ليکل، په راډيو کې به مو خپرول، چې بيا وروسته انترنتي پاڼې عامې شوې او په راډيو تر خپريدلو وروسته به پاڼې ته پورته کيدل، دلته د ميشتو افغانانو راپورونه او ورسره نور، لکه له پيښور او کابل، يا ننګرهار څخه مې راپورونه راوړل، چې هغه مهال ما څو کلونه په پرله پسې ډول، ورته سفرونه کړي وو. دغه راز د ميرمنو مجلې ته مې هم مرکې کولې، په هيواد کې دننه، په هرات او نورو ولايتونو کې هغه وخت ډيرې ځوانې ښځې په نامعلوم ډول ځان‌سوزونې کولې او د مرګ کومې ته تللې. دلته په المان کې، يا بهر په نورو هېوادونو لکه کانادا، امريکا، استراليا کې له ميشتو افغان هنرمندانو سره، لکه د هېواد محبوبه سندرغاړې نغمه، خداي(ج) بښلې قمرګله، د هېواد بله پيژندل شوی هنرمنده وجيهه رستګار، په پيښور کې زرڅانګه، شاعرانې وې او هم به په راډيو کې خپريدلې او هم به په انټرنت پاڼه کې خپريدلې.

له خپلو ټولو افغانو فعالو ميرمنو سره زما مرکې اوس هم د راډيو په ارشيف کې شته دی، چې د پارلمان له ټولو ښځينه استازو سره مې مرکې کړې، يا د ښځو حقونو له پاره د فعالو ميرمنو او هم د بشري حقونو له پاره فعالو نارينه‌وو سره غږيدلې يم او بيا مې انټرنت پاڼه کې هم ياد راپورونه خپاره کړې دی.

په وروستيو کې مې له څو کلونو راهيسې په پرله پسې ډول له افغان جرمن انلاين پورټال او دعوت انټرنتي سايټونوته خپل څېړنيز مطالب، لنډې کيسې او اشعار استولي او هغوي خپاره کړي دي.»

دا لاندې يې د يوې سياسي څېړنيزې ليکنې يوه لنډه برخه ده:

«سر په دار لګ شوی ښه دی، نه لګ شوی په پيغور

د هرې ژبې کارپوهان وايي چې د علم د متود له مخې ښايي په ژبه کې په پرله پسې ډول څېړنې، شننې، د نويو لغتونو موندنې او پلټنې وشي او دا د ژبې د هر څېړونکي او ژبپوه دنده ده، چې خپله ژبه د بډايني او غنا لوړ پوړ ته ورسوي، نه دا چې د دري ژبې شاعر په نوم کوم کس دومره ولويږي،چې په پردي هېواد کې خپل ځان ټيټ او خپله خاوره د بل وګڼي.

په تهران کې د نجيب بارور په نوم يو مهاجر غوږه مالي،چې د ايران جمهور ريس علی خامنه ای ته يې کړي او په اصطلاح هغه يې د فارسی ژبو مشر ياد کړی، ځان يې ورته د هندوکش له غرونو د ايران پنجشير ولسوالۍ اوسيدونکي ورپيژاندلې دی. په دغه شيبه کې ځان د حقارت او ټيټوالي تر ټولو وروستی حد ته رسولي دی. دی اوس د ډيرو وطن پالو هېواد والو له پاره يوه پيژندل شوې

کرغیزنه څیره ده او له سختو پیغورنو سره مخ شوي دي.د ده خبرو ته د ټولو افغانانو  غبرګون یو ډول دی، هغه که د هېواد په پښتو ، دري او نورو ژبو غږیږي...»

په دي مقاله د اغلي شاهجان حرکت د فرهنګي کارونو بېلابېلو برخو ته لنډه کتنه وشوه، د لاسلرلو موادو او اسنادو نه په استفادې سره د دې د کارونو بېلګي وړاندې شوې. زه اغلي شاجان حرکت ته، له ښې روغتیا سره، د اوږد عمر غوښتنه کوم څو وکولای شي چې خپل یاد فرهنګي کارونه پسې وغځوي او خپلو خلکو او ټولنې نور فرهنګي چوپړونه هم وکړي.

پای

www.dawatmedia24.com